# زما دې قسم په هغه ذات وي چې زما روح د هغه په لاس کې دی، زه په لمانځه کې په تاسو ټولو کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم لمانځه ته زیات ورته والی لرم، او همدا یې تر هغه پورې د لمانځه طریقه وه تر څو چې له دنیا څخه لاړ

له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې: هغه به په فرض او نورو لمونځونه کې تکبیر ویلو، په روژه کې او له روژې پرته، نو کله به چې پاڅېده تکبیر به یې وکړ، بیا یې چې کله رکوع کوله نو تکبیر یې وکړ، بیا یې : سمع الله لمن حمده وویيل، بیا یې ربنا ولک الحمد وویل؛ مخکې لدې چې سجدې ته لاړ شي، بیا چې کله سجدې ته ټیټېده نو الله اکبر یې وویيل، بیا یې له سجدې څخه د راپورته کېدو پر مهال تکبیر وکړ، بیا چې کله له دوو سجدو څخه راپورته کېده نو تکبیر یې وکړ، او همداسې به یې په ټول رکعت کې کول، تر دې چې د لمانځه څخه فارغ شو، بیا یې چې کله مخ وګرځاوه نو ویې وییل : زما دې قسم په هغه ذات وي چې زما روح د هغه په لاس کې دی، زه په لمانځه کې په تاسو ټولو کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم لمانځه ته زیات ورته والی لرم، او همدا یې تر هغه پورې د لمانځه طریقه وه تر څو چې له دنیا څخه لاړ.

[صحيح] [متفق علیه دی ( بخاري اومسلم دواړو روایت کړی دی]

ابوهریره رضي الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د لمانځه د بیانولو په موخه یوه برخه را نقلوي او وایي چې کله به د لمانځه لپاره پاڅېده نو تحریمه تکبیر به یې وکړ، بیا به چې کله رکوع ته تللو نو تکبیر به یې وکړ او کله به چې سجدې ته تللو، او کله به یې چې له سجدې څخه سر راپورته کاوه، او کله به یې چې دویمه سجده کوله، او کله به یې چې ترې سر راپورته کاوه، او کله به چې له دوو لومړیو رکعتونو څخه راپورته کېده وروسته لدې چې لومړي تشهد ته به په درې رکعتي او څلور رکعتي لمونځونو کې کېناسته، بیا به یې په ټول لمانځه کې همداسې کول تر دې چې لمونځ به یې بشپړ کړ، او کله به یې چې ملا له رکوع څخه پورته کوله نو : سمع الله لمن حمده به یې وییل او بیا به یې په ولاړه وییل : ربنا لک الحمد. بیا چې ابو هریره کله له لمانځه څخه سلام وګرځاوه نو وییل به یې: قسم په هغه ذات چې زما نفس د هغه په لاس کې دہ، زه په تاسو ټولو کې په لمانځه کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم لمانځه ته ورته والی لرم، چې همدا د رسول الله صلی الله علیه وسلم د لمانځه طریقه وه تر دې چې له دنیا څخه یې رحلت وکړ.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65098

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee